# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



لیکوال او شنانډ: نظرمحمد مطمئن

۰۲ دسمبر ۲۰۱۵

## افغانان؛ د ازادۍ جګړه او د اتلولۍ داستانونه!

**جوهر دوداییف** چې د چیچن د مسلمانانو لومړنی مشر او د چیچن د ازادۍ سرلارۍ او ددغه هیواد لومړی مسلمان ولسمشر دی، پر افغانستان د شوروي اتحادي جمهوریتونو د حملي په وخت کي په افغانستان کي جنګیدلی او دلته یې له مجاهدینو سره په جګړه کي مدال هم اخستی دی. هغه د شوروي اتحادي جمهوریتونو د پوځیانو ښخه یوه تکړه او تجربه لرونکی جنرال وو.

**جوهر دوداییف** یو پخواني افغان ډیپلوماټ ته ویلي چې د چیچن د ازادۍ دغه فکر یې د افغانستان د مجاهدینو ښخه اخستی دی، هغه ویلي وو چې یوځل د افغانستان په لویدیځ کي د مجاهدینو سره د جګړي پر مهال زموږ روسي پوځیانو درې یا څلور مجاهدین ژوندي ونیول، کله چې مي د هغوی شکېدلي جامي، وچ کلک ډنګر بدنونه، خواري او ستونزو ځپلي مخونه، دهغوی ځیري او زاړه د پښو پایزار ولیدل، د هغوی زړې او بې کیفیته ټوپکي مي ولیدلي او بیا مي د دوی دغه حالت د سرو پوځیانو له مجهز نظامي شتون سره پرتله کړ، ډیر تعجب شوم، چې داخلک به تر کوم وخته جګړه وکړي او دوی به څه ډول وتوانیږي چې خپله د ازادۍ جګړه به وکټي.

همدي مجاهدینو ته ورغلم، ورته مي وویل چې زه هم مسلمان یم، او له همدی کبله ستاسي سره مرسته کوم، ژوندي مو بیرته پریږدم چې خپلو کورنیو ته ولاړ شئ، خو زما سره به تاسي ژمنه کوئ چې بیا به وسله نه اخلئ او له روسي پوځیانو سره به جګړه نه کوئ.

**جوهر دوداییف** ویلي چې همدا او دیته ورته خبرې مي نوري هم ورته وکړي، دا مي ورته ویل چې زه مسلمان یم ځکه ستاسي سره همدا خواخوږي لرم. په جګړه کي اسیر شوو مجاهدینو راته وویل چې موږ به خپل منځ کي مشوره وکړو، هغوی په خپله ژبه سره وږغیدل او لږ وروسته یې راته وویل چې موږ به کوشش وکړو چې ستاسي سره جګړه کي مخ نه شو، خو دا ژمنه درسره نه شو کولای چې موږ به په کور کینو او د روسي پوځیانو سره به جګړه نه کوو، هغوی چې زموږ په خاوره یې یرغل کړی او هغوی چې زموږ د دین او مذهب دښمنان دي.

**جوهر دوداییف** ویلي چې کله مي دهمدي خواري ځپلو افغانانو قوي هوډ او جرأت ولیدی، همدلته مي ذهن کي د چیچن د ازادۍ نقشي ابتدایي ترسیم ځای ونیو، فکر مي وکړ چې د چیچن وګړي تر افغانانو د ډیرو امکاناتو لرونکي دی او د چیچن ځمکنی جوړښت هم د جګړي له پاره له روسي پوځیانو سره ډیر مناسب دی، کله چې بیرته له افغانستان ښخه ولاړم، چیچن کي مي د همدې نقشي د تطبیق له پاره ځیني ملګري پیداکړل او همهغه وو

چي د روسانو مقابل کي مو د ازادئ اعلان وکړ، خپل حکومت مو اعلان کړ، چي ورسته بيا له روسانو سره وسلواله مبارزه هم پيل او **جوهر دودايیف** هم د روسي الوتکي څخه د کنترول شوي بم په واسطه وويشتل شو.

**سليمان لايق** چي د پرچميانو د حکومتونو پرمهال دهغوی يوه پيژندل شوي څيره ده، او کمونستئ پلوه حکومتونو کي د قومونو او سرحدونو چارو او د افغانستان راډيو تلويزون وزير تير شوی، هغه هم د افغانانو د ازادئ غوښتني اړوند يو ناول ليکلی، ويل کيږي چي غواړي دده له مرگ څخه وروسته له چاپ څخه راووځي.

**ښاغلی لايق** په يوه مرکه کي ويلي چي د لغمان د سرخکانو سيمه کي د مجاهدينو سره جگړه وه، جگړه سخته شوه، خپله د جگړي لومړئ کرښتي ته لاړم، چي نور جگړه بس کړو، زموږ دولتي افسرانو يوځوان راوست، دومره ښايسته وو لکه چي په لاس دي رسم کړی او جوړ کړی وي، دهغه سترگي ډيري تيزي او د ويرې هيڅ اثر پرې نه ليدل کيدی، افسر راته وويل چي دا خاين دی، زموږ ډير عسکر يي راته وژلي دی، امر راکړئ چي ويې وژنو او د صحرايي محاکمي له مخي دده کار ور خلاص کړو.

ومي نه غوښتل چي هغه ښايسته ځوان ووژل شي، افسر ته مي وويل چي خوښي يي کړئ، نظامي کسانو راباندي اعتراض وکړ چي د انقلاب مصلحت په پام کي نه نيسئ، نو موږ ته يو ليک راکړئ چي هغه پريږدو، داکار مي وکړ خو هغه ځوان راباندي ږغ کړل چي ورته وليکه چي ژر له عذابه خلاص شم، هغه فکر وکړ چي د هغه د مرگ امر ورکوم. همدي بندي مجاهد ته مي وويل چي له بندي کيدو سره دي عقل هم د لاسه ورکړی، او دژوند په اهميت نه پوهيږي، زه دي خلاصوم. مجاهد وويل چي د غلامی تر ژوند مرگ سله ځله بهتر دی.

ورته مي وويل چي ته دومره نر يي چي له دي ژوند نه مرگ درته بهتر دی، هغه وويل هو، مهربانی وکړه او تجربه وکړه، امر وکړه چي زه ووژل شم.

ورته مي وويل چي دومره نر او غيرتمند يي نو تا هيڅوک هم دلته نه شي وژلای، افسرانو کله په اساني دغه کس پريښودی، د هغه د خلاصون د ليک په وخت کي مي دهغه ځوان څخه د نوم پوښتنه وکړه، هغه راته آن خپل نوم هم ونه وايه، له ځانه مي د ظفر (کامياب) نوم پري کينښود او دهغه د خلاصون ليک مي افسرانو ته ورکړ.

افسران او عسکر مي رخصت کړل او نږدي ۱۵ دقيقي مي دغه بندي له ځان سره کيناوی.

پوښتنه مي ورڅخه وکړه چي ټوپک دې درلود، ويل يي هو. يو ډزی ټوپک مي درلود، ومي ويل چي هغه دي څه کړ؟ هغه وويل چي عسکرو راڅخه واخيست.

ورته مي وويل چي زه به تاسي ته کلاشينکوف درکړم، خو گوره موږ به پري نه ولي او ناځواني به نه کوي. هغه مجاهد ځوان وويل:

گوره کومه ځواني چي دي وکړه هغه مه مرداروه، که لس ځله مي خوشی کړي بيا هم درسره جگړه کوم، زما ټول ملگري په دي لاره کي شهيدان شول او يواځي زه ژوندی پاتي يم.

**لايق** ويلي چي همدا ناول د هاليوډ اکترانو له ماڅخه غوښتی او ځينو کمپينو يي هم غوښتنه کړي، تر دوه لکه ډالرو پوري د دالاس د مشهرو امريکايي سرياِل اتل راڅخه غوښتنه کړي وه، ورمي نه کړ.

ښاغلي **لايق** دغه خبري د سپيده مجلې سره په مرکي کي کړي او ويلي يي دي چي موږ ته څه په کار وه چي ملا وډبو او د جومات دروازي بندي کړو.

استاد **محمد زمان مزمل** په يوه مقاله کي په کندهار کي د مجاهدينو د مشهور قومندان، **لالا ملنگ** په زړه پوري کيسه کوي. **لالا ملنگ** د طالبانو د سياسي دفتر د پخواني مشر، **سيدمحمد طيب اغا** مشر ورور و. **لالا ملنگ** له

روسانو سره په جګړه کې اسیر شوی و. کله چې د مجاهدینو په لاس کې له روسي اسیرانو سره تبادله کېده، له هلیکوپټر د راکښته کېدو پر مهال ورته روسي جنرال ویلي و: بیا خو به د جګړې لیکو ته نه راځې؟

**لالاملنګ**: که تاسي راځئ، زه به هم راځم!

یوه بله عجیبه واقعه هم د یادولو وړ ده، روس پلوه حکومت ته راپور ورغلی وو چې یو ګروپی (چې ملایي شاته وتلي وي) سړی د مجاهدینو سره اړیکه لري او د هغوی له پاره کابل ښار کې فعالیت کوي، ددې له پاره چې همدا ګروپی ونیول شي، دهغه وخت کمونستې پلوه حکومت پریکړه وکړه چې په ښار کې ملاوتي کسان ونیسي، د کابل ښار ډیر همدا ډول کسان حکومت ونیول خو هغه کس چې دوی ته مطلوب وو، ونه نیول شو، هغه خبر وو چې دده د نیولو هڅه روان ده، کله چې خبر شو چې دولتي جاسوسانو دده د نیولو په موخه نور ډیر ګروپ کسان نیولي نو هغه خپلو ملګرو ته ویلي وو چې زما په خاطر به څومره کسان د خلقیانو او پرچمیانو د لاسه په تکلیف او شکنجه کې د هغوی په دوزخي زندانو کې تر وهلو او ډبولو لاندې وی، له همدې امله پرکړه کوم چې ځان دولتي جاسوسانو ته تسلیم کړم، هغه مجاهد په خپله خوښه نږدې عسکرو ته ورغلی وو او ځان یې ورته تسلیم کړ، د ولتي جاسوسانو ته یې ویلي وو چې هغه نور ښاریان چې دده په د پیداکیدو له امله چې همدی پکې وپېژندل شي نیول شوی هغوی خوشي کړئ او زه دادی خپله راغلی یم، بیا همدی هم له اعدام څخه ژغورل شوی او ۵ کاله بند سزا ورته ورکول شوې وه.

**ملافاضل اخند** چې د طالبانو لوی درسیز وو، د طالبانو په نظامي لیکو کې یې ډیر شهرت درلود، **عبدالرشید دوستم** امریکایان ته وسپاری، او ګوانتانامو کې یې نږدې ۱۳ کلونه بند تیر کړ، دګوانتانامو ځیني بندیان وایي چې د تحقیق پر مهال به د زندان د محقیقینو له خوا چې امریکایان وو، سخت وهل کیدی، او داسي چې بې هوښه به شو، خو چې کله به په هوښ راغی، بیا یې امریکایي محقیقینو ته ویل چې که خلاص شوم، بیا به هم ستاسي سره جګړه کوم او وژنم به مو.

سمئیز او ولایتي دولتي ځیني چارواکي او د ولایتي شوراګانو غړي د کندز له جګړې وروسته داسي څرګندونې کوي چې ګواکي د افغان ملي اردو عسکر له طالبانو سره جګړه نه کوي او که جګړه کوي هم هغه ډول چې لازم ده وړتیا نه ښیي.

داچې اوس مهال د خلقیانو او پرچمیانو ځیني مشران وایي چې هغوی ناحقه جګړه روان کړي وه او خپل خلک یې وژل، د جګړې ګټل ورته اسانه هم نه و، ځکه دداسي ملت سره په جګړه کې ښکېل وو چې د خپلې ازادۍ ، دین، مذهب او کلتور ساتلو له پاره یې هر ځوان مرګ ته چمتو و.

داسي راپورونه هم ترلاسه شوي چې د ګډ حکومت مشرانو له دولت پلوه ملایانو غوښتنه کړي چې د جګړې له پاره د ملي اردو د مورال د لوړوالي له پاره کار وکړي، له دولت پلوه قومي مشرانو، مخورو، پیرانو او حضراتانو یې هم ورته غوښتنه کړي.

ویل کیږي چې پخوانی ولسمشر **کرزي** سره هم افغان لوړپوړو چاراواکو همدا خبره شریکه کړي چې د ملي اردو عسکر له طالبانو سره جګړې ته لیوالتیا نه لري، حتی داسي ناتاید شوی راپورونه هم خوله په خوله ګرځي چې د ملي اردو ځینو جنرالانو هم همدا شکایت افغان لوړپوړو چاراواکو ته کړی دی.

که دافغان اردو له جګړې سره د نه لیوالتیا خبره رښتیا وي، او داچې په هلمند، بدخشان او کندز کې ډیری د اردو عسکر له خپلو نظامي تجهیزاتو سره د طالبانو لورته ولاړل، په کارده چې نور افغان ځوانان د پردیو د ګټو له پاره ونه وژل شي، او د رښتوني سولې له پاره کار وشي.

دا خبري هم د اردو او پوليسو په ليکو کي دهغو کسانو تر منځ کيږي چي ځانونه يا خو مجاهدين بولي او يا د مجاهدينو زامن، چي دوی د کوم چا له پاره جګړه وکړي، په داسي حال کي چي د دفاع او کورنيو چارو او امنيتي ادارو مشران يې پخوانی کمونستان دي، ممکن هغه پخوانی دښمني به هم ددي باعث وي چي ډيری د ملي اردو عسکر له طالبانو سره جګړې ته هغه ډول چي حکومت يې توقع لري ليوالتيا نه ښيي.

داچي په تيرو ۱۴ کلونو کي د دروغجني سولي خبرې کيدلي او حکومت يواځي د شعار او جيب ډکولو په موخه د سولي پاک نوم وکاراو، اميد دی چي نور د ولس غولول بس شي د ګډ حکومت مشران په يوه خوله د سولي له پاره کار وکړي او زموږ ځوانان نور ونه وژل شي.

داچي د حکومت د سولي په پروګرام باندي افغان ولس بې باوره شوی، له همدي امله اوس مهال سترګي طالبانو ته اوړي، او هغوی بايد د سولي له پاره قرباني ورکړي او د سولي راوستلو ابتکار په خپل لاس کي واخلي.

***یادداشت:***

*جنایتکاران و میهنفروشانی از قماش "دوداییف"، "سلیمان لایق" و امثال شان، به واقعیت امر انسانهائی اند که بوئی از شرافت و وجدان نبرده اند، چه آنها در زمانی که قدرت داشتند با زبان آتش و گلوله با مردم ما صحبت نموده، آنقدر "اشرار" می گفتند و گلو پاره می کردند و افغان آزاده را می کشتند و نقطه نقطۀ افغانستان به گورستان آزادگان گمنام کشور مبدل نموده بودند، تو گوئی جان و حیات یک افغان، ارزش یک بال مگس را نیز نداشته است مگر اینک که آن کشتار و جنایات شان، بهره ای برای شان نداشت، می خواهند با دروغپردازی های رسوا تر و ننگین تر از اعمال شان، به تحرف تاریخ مبارزات کشور دست یازند.*

*مردم افغانستان با شناختی که از آن جمع میهنفروش و قاتل دارد، هیچ گونه گله ای از آنها ندارند، مگر این را نمی توانند بپذیرند، تا آنهائی را که دم از افغانستان، اسلام و مردم افغانستان می زنند، در خدمت آنها مشاهده نمایند.*

*نویسندگان محترم کشور وظیفه دارند، وقتی در یک زمینه ای قلم می زنند، تبعات بعدی آن را نیز سنجیده، برای میهنفروشان و جواسیس، فرش قرمز پهن ننمایند.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*